Source: www.constitution.org

ليتوالـه
يوه لنډه پېژندنـه

Ketabton.com

ليکونکي: ليوډ سپينسر او اندرسېج کراوسي

ژباړه: نورالله اتل

(c) ketabton.com: The Digital Library

پرپرېدئ چې رنا شي

ليتواله د روښاندۍ هغه څړيکه وه چې په ۱۸ پېړۍ کښې ټولې اوروپا راوبوړنوله. ټپکانه خو يې په پاريس کښې وه مګر ټولې اورپا ته وغزېدله او ان هغو ټاټوبيو ته ورسېدله چې اوروپايانو په امريکي کښې جوړ کړي ول. ليکوالانو او روشندويانو ۱۸ پېړۍ ته د رونا يو پرتمين سوچ ورکړۀ.

د ليتوالي روشندويانۀ انګېرله چې دوي د يوۀ داسي ستر غورځنګ غړي دي چې د بشر د سترۀ هيلۀ او ځواکونۀ استازيتوب کوي. دوي داسي سمون غوښتونکي ول چې په دې پوره پوره ډاډه ول چې خپل ګاي د ريښتينيۀ، کره کتنې او ورسې په مټ زباتولاي شي.

Source: www.henri-iv.com

(لوي ديارلسم) (لوي څوارلسم – لمرين باچا) (لوي پينځلسم) (لوي شپاړسم)

د ټۀلواکانۀ ځلا

د فرانسې ټۀلواکانۀ لکه لوي ديارلسم (۴۳ – ۱۶۰۶)، لوي څوارلسم – لمرين باچا (۱۷۱۵ – ۱۶۳۸)، لوي پينځلسم (۷۴ – ۱۷۱۰) او لوي شپاړسم (۹۳ – ۱۷۵۴) له پاريس څخه د ګردې نړۍ پلازمينه جوړه کړه، او په همدغه وخت کښې يې د فرانسې ليتوالي لره هم اورېدونکي و پينځول او هم يې موخه ورله وټاکله.

د ليتوالي ژبه فرانسوي وه. هرڅه چې به په فرانسوي کښې خپارۀ شول هغۀ به د ټولې اورپا لوستې او پوهې ټولنې ته د منلۀ وړ ول. کومې پرتمينې او سترې ليکنې چې به په لومړي سر کښې په فرانسوي نۀ وې ليکل شوې هغه به په زغرده دغه نړۍواله ژبه کښې ژباړل کېدل. په ټوله نړۍ کښې « د پوهې څېړنتونۀ » به ويل چې دوي ټول د فرانسوي ليکوالانۀ شاګردان دي.

په دغو انديالانۀ کښې لکه د سکاټلنډ د ډېويډ هيوم او ادم سميت، د امريکي له ټاټوبيو څخه بينجمين فرانکلين او تامس جېفرسن او له ميلان څخه سېسار بېکاريا او داسي نور ول. کله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library

به دوي د پاريس په سالونو کښې ومنل شول نو دوي به ويل چې ايله اوس سم ځاي ته راورسېدل.

د اوروپا په درسته وچه کښې کانون پۅهانۀ او شتمنې بورژوا فرانسې ته د يوې بېلګې په سترګه کتل.

د سسېکس يوۀ ودان ځمکه وال خپل زوي ته په ليک کښې وليکل: « که څۀک په فرانسوي پوهيږي نو په ډاډه زړه د ټولې نړۍ سيل کولاي شي او هيڅېرې به د ژبې ستونزه و نۀ لري ځکه چې د فرانسوي ژبې ويونکي هرچيرې شته، او هم به ډېر ښه ملګري پيدا کي. بله هيڅ ژبه داسي نۀ ده.»

د ليتکي لومړني بڅړي

په ۶ مارچ، ۱۷۰۶، لارډ شافټسبري په خپل ليک کښې لا کلېرک ته داسي وليکل:

« يوه برېښنده رڼا په درسته نړۍ خپريږي، په تېره بيا د اينګلستان او هالنډ په دوۀ ازادۀ هيوادونۀ باندي د چرته نه چې اوس د ټولې اوروپا چارې سرچينه اخلي.»

د ۱۷ پېړۍ په زياتره برخه کښې هالنډ په اوروپا کښې ازادترين هيواد ۀ. امسټردم هر ډول ازادسۀچۀ او هغۀ کسانۀ ته چې له خپله دينه اوښتي ول پنا ورکوله. په ۱۶۶۷ کښې د انګرېز فلسفي جان لاک (۱۷۰۴ – ۱۶۳۲) يوه ليکنه د زغم په اړوند (An Essay on Toleration) وليکله. هغۀ د هغۀ پروټسټنټانۀ ډېر نيژدې ملګري ۀ ځۀک چې د کاتۀليکي باچا جېمز دۀيم (۱۷۰۱ – ۱۶۳۳) سره سخت چپ ول.

په ۱۶۸۳ کښې جان لاک اړ ايستل شۀ چې د هالنډ روټردم ته تېښته وکوي. هغۀ هلته خپلې سترې ليکنې لکه، د اينساني پۀهنې په اړوند ليکنه (Essay Concerning Human Understanding) او د سرکار دوه ټرونونه يا (Two Treatises of Government) وليکلې. دغه دواړه کتابونه د هغې ورسې په سر کښې ول کومه چې د ليتوالې په ټۀل پېړ کښې خورا ګرمه وه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Source: britannica.com

ويليم درپيم او مېرې دويمه

د اينګلستان « پرتمينه اوښتنه»

د اينګلستان پارليمان د جېمز دويم له کاتوليکي پلوۀ کارونو خوښ نۀ ؤ نو ځکه خو يې هالنډي پروټسټنټ ويليم درپيم د اۏرېنج (۱۷۰۲ – ۱۶۵۰) او د هغۀ انګرېزي مېرمني مېرې دويمې (۹۴ – ۱۶۶۲) ته بلنه ورکړه چې د اينګلستان پر تخت باندې کښېني. هغوي هم له هالنډ څخه د اۏبۏ له لارې اينګلستان ته راغلل او د وينې له بهولۏ پرته خو د کال ۱۶۸۸ « پرتمينه » اوښتنه يې بريا ته ورسوله.

دغې اوښتنې په څرګنده تۏګه د انګرېزي پارليمان خپلواکي پخه کړه او په لومړي ځل يې اينګلستان ته د « رېښتۏ لاسوند» يا "Bill of Rights" هم ورکړۏ. دغسې نۏرۏ سمونۏ ډېر په زغرده اينګلستان په درسته اوروپا کښې ازادترين هيواد وګرځولۏ. د زغم کانون (۱۶۸۹) د کوېکرانۏ په ګډون ډېرۏ پروټسټنټانۏ ته په ازاده تۏګه د خپلې ګرۏهې اجازه ورکړه مګر لا هم هغوي ته د دولتي چوکۍ ترلاسه کولۏ اجازه نۀ وه. د اينګلستان کليسا چې په ځانګاني تۏګه په ګرۏهې او پۏهنې کوم واک لرلۏ هغۀ يې وبايللۏ. په کال ۱۶۹۵ کښې هغه وروستي واک هم له لاسه ووتلۏ چې چاپ به يې تر خپل ګورت لاندې ساتلۏ.

د رېښتو لاسوند وړاندې کېږي

Source: www.theglorioussrevolution.org

(c) ketabton.com: The Digital Library

د اوښتنۍ پېړۍ

دوه سترې پلازمېنې، پاریس او لندن، دواړه په ۱۸ پېړۍ کښې په نابېره تۀګه ډېر په زغرده پراخې شوې. مګر د غښتلي سوداګر اینګلستان پراختیا نوره هم زیاته مانا لرله. د همدغې پېړۍ په لومړنۍ نیمایي کښې اینګلستان د کرنې اوښتنه (Revolution) ولیدلۀ او په دیمه نیمایي کښې د اینډسټرۍ اوښتون ورپسې ۀ.

په ۱۷۷۶ کښې په امریکي کښې ټاټوبي رااوچت شول او له انګرېزي سترواکۍ سره یې ډغره ووهله. د اوښتون په پایله کښې یو د امریکې ستر ملت راڅرګند شۀ.

د بوسټن ټي پارټي: هغه ستره وژنه چې د امریکي د اوښتون پیلامه شوه

Source: www.blog4history.com

یوه لسیزه وروسته په ۱۷۸۹ کښې اولسي پاڅون نه یوازې په فرانسه کښې بلکې ټوله نړۍ یې کچه یو داسي اوښتون راوستلۀ چې اغېزې یې لا نن هم روانې دي راڅرګندیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

Source: library.brynmawrschool.org

د دغۀ اوښتنۀ په راتګ سره د لیتوالي د غوځنګ د سرخپلانۀ او اندیالانۀ ته لاره هواره شوه چې خپلې لورې هیلې اوس د ټولنې د بښګرې لپاره په کار واچوي.

سماوارونه، دپرې او رسنۍ

په دغو شپۀ او ورځۀ کښې د اولسونۀ راشه درشه هم خورا پراخه شوې وه او د دې ترځنګ د رسنیو لیکوالان هم ډېر تکړه شوي ول او په زړه پوري لیکنې به یې کولې. سماوارونه په لندن کښې د روشندویانۀ او اندیالانۀ د ژوند برخه ګرځېدلي ول. په ۱۷۴۰ کښې یوازې په وېسټ مینسټر سیمه کښې تر ۴۰۰ زیات سمارونه ول. اننۀ د اینګلستان نوي پانګ او د ختیځ هند سوداګري ګډوالي (شرکت) هم له دغۀ سماوارونۀ څخه ګټه اخیستله. لویډ سماوار (Lloyd's coffee-house) په ۱۶۹۱ کښې لویډ اف لندن شۀ چې د سمندري بیمې یو منځي ؤ.

په دغۀ سماورانۀ کښې به هر ډول راشه درشه کېدله، لکه:

- وګړو به د سود سودا کارونه کول او د هر ډول تۀکۀ راکړه ورکړه به کېدله.
- دلته به بېلابېلې ورځپاڼې او مهالنۍ هم وې چې ناستۀ کسانۀ به لوستلې او بیا به وراسه ورباندې کوله
- بېلابېلو کسانو د خپل خوند او باړ سره سم ټولنې جوړې کړې وې، لکه سایسنپۀهان، هونرمندان او سیاستوال

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لويډز سماوار يو کښل شوي انځور

Source: www.concurringopinions.com

د جان لاک په شان ستر انديالان به هم دغۀ سماوارونۀ ته راتل. په همدې سماورانۀ کښې هغه دې پايلې ته ورسېدلۀ چې ژبه هم د پوهنې درسته ده او د پوهنې په لاره کښې يو خنډ هم دي.

د پۀهانۀ ژبه ګرانه وي نۀ ځکه خو اولس نۀ پرې پوهيږي.

جان لاک په پاي کښې داسې پرېکړه وکوله:

« پکار ده چې زه خپل چورتونه او اندونه په دومره اسانه ژبه وليکم چې هر يو لوستونکي وکولاي شي چې ځان پرې پوه کي »

(c) ketabton.com: The Digital Library

د جان لاک « پاکه تخته »

source: http://images.google.co.uk

په ګرده ۱۸ پیړۍ کښې د هرچا لپاره، که به فلسفي ؤ او که به نۀ ؤ، د جان لاک کتاب « د *اینساني پوه پ ا ونډ یوه لیکنه* ۱۶۹۰» یا *(essay concerning human understanding)*خو به يې هرو مرو لوستلؤ. کابو د لیتوالي (*Enlightenment*) د هر اندیال لپاره د لاک «پاکه تخته» (*tubual rasa*) ډېره له مانا ډکه وه. لاک به په ډېره ځواکمنه تؤګه ویل چې د اینسان سوچ د زوکړې په مهال لکه یوه سپینه او پاکه تخته وي. نهیرونه (*Ideas*) په اینساني خمیر کښې په ژوره تؤګه اغښلي نۀ وي بلکي هغۀ يې له خپله چاپیریاله زدکړه کوي. لنډه دا چې ټوله اینساني پوهه په تجربې باندي ولاړه ده.

source: *http://2.bp.blogspot.com*

(c) ketabton.com: The Digital Library

جان لاک به ویل: راځي چي داسي وګڼو چي دماغ د يوۀ سپين کاغز په شان دي، چي هيڅ نهيرونه (*ideas*) نۀ لري؛ نو چي نۀ يي لري نۀ بيا دا سدبد له کومي خوا راځي؟ دا دومره بي پايه او رنګارنګ چورتونه او اندونه راځي له کومي چي اينسان لګيا وي او په دغه سپينه تخته باندي يي کرښنه کوي؟ د دغي پوښتني ځواب بس په يوۀ ټکي کښي ورکړلاي شي، **تجربه**.

د لاک دغه د تجربه (*empiricism*) د رښي ديسکارټس (۱۶۵۰ – ۱۵۹۶) له سنجوني (*rationalism*) مخامخ په ټکر کښي وه چي ويل به يي داسي نهيرونه شته (د بېلګي په توګه خداي، سوچ او بدن يا دري کونجه) چي ريښتينولي يي يوازي د سدبد د رنا په مټ پېژندل کېدلاي شي. نۀ لځکه خو «لاندېزن» ورته ويلاي شو.

Source: http://www.daviddarling.info/images

مګر لاک هم تجربه په دوۀ بېلۀ ډولونۀ وېشله: بهرني هوښ *(external sensation)* او دننه هينداروونه *(internal reflection)*

فيلوسوف اېټايني کوندېلاک (۱۷۱۵ – ۸۰) په فرانس کښي د لاک فلسفه نۀره هم په اولس کښي نامتو کړه.هغه په خپله ليکنه *(Essai sur l'origine des connaissances)* کښي په د هوش يا اوسانو په رۀل خورا ټينګار کولۀ.

هغه به ويل: دغه د «هوش» اند بېخي هغسي دي لکه څنګه چي لا مېټغاي او ديهولباخ د اينسان د خوي بوي په هکله کوم اند وړاندي کړي دي چي بنسټ يي متروال (*materialist*) دي.

پخپله لاک بيا د هينداروني رول ټينګار کولۀ او د ماغ د وړتياۀ رول يي هم منلۀ. له دي سره هغه په مور کښي دننه په هغي تلوسي باندي هم باور لرلۀ چي مور په خوشالۍ پسي ګرځو او له کړاو څخه ځان ساتو. مګر کوندېلاک بيا دا ګايونه نۀ منل.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پوهنې د تنګوالي پېژندنه

له پېړیو پېړیو راهیسې پوهنیزه زېرمه د شیخانو او پیرانو په لاس کښې وه. په کلیسا کښې د ښو خویونو او ښو کړنو ژبې خورا وده کړې وه. خو لاک چې بیا ایناسني پوهې ته په کومه سترګه کتل له هغۀ څخه د یوۀ نوي ډول ژبه راوزېرېدله. یوه داسي ژبه چې زمونږ دننه نړۍ یې رسېرله، کېدلاي شي مونږ ورته روانپېژندنه *(psychology)* ووایو، هغۀ ټکي چې په ۱۸ پېړۍ کښې ډېر نۀ کارول کېدلۀ. لاک د ښوونکۀ په هغې ژبې باندې نیوکې وکولې چې بس تش د ګرانو، ناڅرګندو او ګډوډو توریو او ټکیو د جال په شان به وه او پر ځاي یې د پوهې د هغې لوي وچې په کچمېچه پیل وکولۀ چې اینسان په دننه کښې غوړېدلې او غزېدلې پرته وه.

هغۀ به ویل، زمونږ پوهه لنډه او تنګه ده. راځي چې دا لنډ او تنګ بریدونه ومنو. ورپسې راځئ چې په دغۀ لنډۀ او تنګۀ پولۀ کښې دننه زیاته تر زیاتې پوهه ترلاسه کو. دا کار به هغۀ مهال وکولاي شو کله چې د پوهې څېړنه وکوو او وېې پېژنۀ چې پوهه څنګه کار کوي. پکار ده چې مونږ یې وڅارو چې زمونږ نهیرونه څنګه رغیږي او څنګه یوتربله یوکیږي، او بیا څنګه په یاد کښې پاته کیږي. په دې ګرده چاره کښې مونږ تراوسه پوري بېخي نااګاه یو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

روانپېژندنه او ناول

کومه روانپېژندنه چې په ۱۸ پېړۍ کښې پېژندل شوې وه هغې کچ مېچه او سکښت د لاک لخوا شوې ؤ. د لاک لیکنه د ادب د هغه ډول سرچینه ګڼل کیږي چې ټول کار یې د « خپل ځان» له راشي درشي سره دي؛ داسي راشه درشه چې په «ځان» باندي اغېزې کوي ، په یوې ځانګړې سمچې کښې یې اچوي او داسي یې سکنې چې بېخي یوه ځانګړې بڼه غوره کوي.

په همدغه وخت کښې لارنس سټیرن (۶۸ – ۱۷۱۳) **<u>د ټریسټرام شاندي ژوندون او لېمون</u>** *(The Life and Opinions of Tristram Shandy)* لیکلؤ. د لاک لیکنې په ادبي سدبد (فکر) ته دومره ژور ننوتلي ؤ چې تراوسه پوري بلې هیڅ فسفي لیکنې دا کار نۀ کړي ؤ او نۀ یې کولاي شؤ. پخپله د ښاغلي سټیرن په ناول کښې د لاک د سترې لیکنې انځور له ورایه بریښي.

د لاک اغېزې تر ښۀونځۀ او پوهنتونۀ ډېر لیري لیري د لیکوالۀ ټولنۀ او لوستونونۀ ته ورسېدلۀ. اوس ډَولي اندیالانو *(fashionable intelligentsia)* د لاک له «نهیرونه او اندونه» پرته بېخي ګوزاره نۀ شوه کولاي.

داستان د ریښتیاؤ په چوپړ کښې

په ګرده ۱۸ پېړۍ کښې فلسفې او داستان په پرلپسې تۀګه پټپټاني وبله کولۀ. دغه ناول کښونکي زیاتر د هغه دۀد زېړنده ول چې د روم له ستروا‌کۍ سره یې تړاو لرلۀ. مګر د لیتوالې (*Enlightenment*) په پېر کښې داستان ته نوې او بېړنۍ دندې ور په غاړه شوې.

ناول له یوۀ داسي پېر سره بېخي ښه سمون خوړلۀ په کوم پېر کښې چې یوۀ وګړي د خپل ځان لپاره په نړۍ کښې ځانګړې او جلا لاره غوره کولاي شوه. هغۀ لوستونکۀ چې اګاهي او تلوسه یې ورځ په ورځ په چټکۍ سره پراخېدله د داسي کیسۀ او داستانونو کوت (انتظار) کولۀ چې هم به په ازموینه باندي ولاړ ول او هم به یې ساري به ول. کوم نهیرونه او سۀچونه چې به رازېرېدل لیکوالانۀ به لومړي هغه تر ازمۀینې او کتنې لاندي نیول؛ ادبي کړۀ وړۀ به یې لومړي مېچل او تلل او بیا به یې د ژوند له ریښتونیو اړخونۀ او لۀوري لۀدن سره پرتله کول.

د لیتوالې د ناول نکل به د یوۀ ځانګړي کس په ژواک راګرځېدلۀ. په کیسه کښې به د نړۍ د نابېرۀ پېښۀ د هغۀ اغېزو څارنه کېدله چې په یوۀ وګړي باندي به د راشې درشې په ترڅ کښې کېدلې. ښاغلي **دیفوک** به ویل، چې بیا بیا د **لاک** هغه ویل زباتیږي چې هر څه چې موږ ته راپېښیږي نو هله خو موږ تر‌ې رغیږي؛ موږ همدغه څه یو بل څه نۀ یو.

هېپ او غدۍ (*Adventures*)

په ۱۸ پېړۍ کښې ډېر اتلان او اتلانې پیدا شوې چې د نړۍ بېلابېلۀ سیمۀ ته به یې له سرابنټوبه ډک مزلونه او سیلونه کول – په دې هیله چې ګوندي په داسي مزلۀ به یې خپل ژوند

(c) ketabton.com: The Digital Library

یو څه شه شي. هغوي چې به کله له دوښمن، درغلۍ او وَرلا *(sex/seduction)* سره مخامخ شول نۀ د خپل برَم او نامه چورت به ډېر نۀ وهلۀ بس خپله مؤخه به وهله.

مورِ وینو چې زیاتره په دغۀ ناولونۀ کښې ځانګړي کیردار د شۀ او بدۀ له یوې ستونزې سره مخامخ وي، او په دوه کښې هک پک ولاړ وي. زیاتره دوي نابېره او ځاي پرځاي داسي کرښې کښلې دي چې مورِ ته هر هغه خوزښت راښیي چې دوي یې هڅه کوي، او هر هغه تپاک او باړ (*impulse*) راښکاره کوي چې د دوي په ګوګل کښې توسیرِي.

د فلسفیانۀ ناولونه

د لیتوال پېر ناولونه په ساده تۀګه فلسفي نهیرونه او اندونه په پۀر نۀ اخلي، بلکې جوش پکښې پوکي او ژوند پکښې پینځوي. ځینه ستر ناولونه خو د دغه پېر د نامتوترینو فلفیانۀ لخوا ولیکل شول. په ۱۸ پېړۍ کښې ترټۀلۀ زیات چې کوم ناول وپلورل شۀ هغه د ژان ژاک روسو (۷۸ – ۱۷۱۲) ناول *La Nouvelle Heloise* ۀ. د مونټېسکۀ *Lettres Persanes*، د ولټایر *Candide* هم په درسته اوروپا کښې خورا ستره بریا په برخه شوه. دیدرۀ د شاهکار بیا *Jacques le Fataliste* ۀ.

والټایر په خپل ناول **کاندید** یا **اسره ګر** (۱۷۵۹) کښې یوازي په اسرې (*optimism*) باندي هنک (طنز) نه دي کړي بلکې د لایبنیز په اروایني (*Metaphysics*)، او د نیواک (*colonialism*) او کلیسا په ګډون د هغۀ وخت د ټۀلنیزې اډانې په ټولۀ ډولونۀ پورې یې خندلي دي، ان د ورسې اډانه (*system of logic*) یې هم نۀ دي پرېښي. ناول په خپل اتل، **کاندید**، پسې روان دي؛ دي چې د هغه وخت په بلده او پېژندل شوې نړۍ کښې هرچرته ځي نۀ د دوترونۀ او دیوانونۀ په دستورونۀ او خویونۀ کښې چې کومه چالاکي، درۀغ او لېونتوب پروت دي بربنډوي یې. له کاندید سره چې ځوک ملګري دي هغه ډاکټر پانګلۀس دي چې د لایبنیز د اډانې بې ورسې اوتې بوتې یې د تۀلۀ په ځېر یادۍ کړي دي. هغه په ورراسه (*logic*) باندي بېخي ټینګه ګرۀهه لري. د ژوند په ټۀلۀ ریښتیاۀ باندي سترګې پټوي او وایي چې زمورِ له «شتون» سره چې کوم ربړونه او ګډوډي له لویه سره مله ده د هغې سپرنه او پېژندنه مورِ د اروایني (*metaphysics*) په زۀر ډېر په اسانۍ سره کولاي شو. ناول په دې موندنه پاي ته رسیرِي کله چې وروسته کاندید پوه شي چې کار او زیار تر خوشو اټکلونۀ او اسره ډېر ګټور دي.

ښاغلي برمانۀ (*Noble Savage*)

په ۱۸ پېړۍ کښې سیل، سمندري سوداکري، سپرنه او لټون خورا زیات شۀ. د دغۀ مزلونۀ او سیلونۀ له برکته د پۀهنې یوه ځانګړې څانګه راوزېرېدله. دغې څانګې ته «پرتلیزه اینسان پېژندنه » یا *comparative anthropology* وایي.

په کال ۱۷۶۷ کښې فرانسي څېړدونکي، لوي انتوني دي باوګاینویلي (۱۷۲۹ – ۱۸۱۱) د تاهیتي سیمې ته ورسېدلۀ. په ۱۷۶۹ کښې تورن کوک هم دغې سیمې ته ورغلۀ او پوره څلۀر میاشتې یې د وښیس ستوري د لېږد لندراه وکولۀ. باوګاینویلي چې پخپله هم د روسۀ د لارې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لاروي ؤ، په تاهيتي کښې يې د « ښاغلي برمانو » يا (noble savage) ټولې ځانګړنې وموندلې.

د دوؤ تاهيټيانوؤ نجونؤ انځور چې پال ګاګين په ۱۸۹۹ کښې جوړ کړ

source: www.metmuseum.org



source:www.janesoceania.com/tahiti_marquesas1/tahiti_couple.jpg

(c) ketabton.com: The Digital Library

ښاغلي باوګاينويلي به ويل چې د تاهيتيانۏ د وَرلا (*sex*) خويونه ښځي جندون (*nature*) ته نيژدې دي. او زمونږ د سۏچ ښځي اپوټه دوي خو تر مونږ زيات ښارندوي (*civil*) دي. او ښاغلي کوک به بيا ويل، زه تاهيتي خوشال او ارام ژوند د اوروپا له چټل او ياغي ژوند سره ښځي نۀ شم پرتله کولاي.

ښاغلي ديدېرو بيا په خپلې ليکنې کښې د اوروپا دۏدونۏ او خويونۏ د ارزونې او غندنې لپاره د تاهيتيانۏ « سپېځلي لېمۀ » وکارول. هغه په خپلې ليکنې کښې زبات کړه چې د اوروپايانو لپاره چې کوم دۏدونه او خويونه ښځي سم او تۏلې او سور برابر دي هغه د سپېځليۏ تاهيتيانۏ لپاره بيا ښځي بې سوره او ناپېريت دي. له وروسته نۏ د پاريس او لندن د سيانۀ او هوښيارۏ ليکوالانۏ دې ګاي ته ورپام شۏ. هغوي به پوښتنه کوله او ويل به يې چې دا د « ښارنتۏب » يا (*civilization*) نوم خو له هغۏ سپېځلو او پاکۏ وګړۏ سره ښه جوړيږي چې د جنوبي سمندر په ټاپوګانۏ کښې استۏګن دي نۀ د ۱۸ پېړۍ د اوروپا له تۏلنې سره چې په ښځرته تۏګه چټله او ناپاکه شوې ده.
د ښاغلي برمانۏ يا په بله مانا (يو ساده اولس) نهير د ۱۸ پېړۍ په ادب کښې ريښه ونيوله. هر ليکوال به په خپلۏ ليکنۏ کښې لوستونکۏ ته يو ځانګړي (برمانۏ) ورپېژندلۏ. مونټېسکۏ په پارسي شهزاده باندي پيل وکولۏ؛ ولټاير کانديد د تل لپاره ژوندي وساتلۏ؛ بوفۏن بيا د بيدار ادم په نامۀ لوستونکۏ ته وروپېژندلۏ؛ روسۏ بيا پخپل ځاي د برمانۏ ازمۏينه وکوله چې خپل پاته ژوند يې په يوازيتۏب کښې تېر کړۏ.

پارسي ليکونه

مونټېسکۏ (۱۶۸۹ – ۱۷۵۵)، چې پوره نوم يې *Chalres-Louis de Secondat, Baron de le Montesquieu* دي، د خانانۏ په کۏرنۍ کښې پيدا شوې ۏ او د بۏردۏ د سيمې د پارليمان په ميراس ورته پاته شوې ۏ. په ۱۷۲۱ کښې هغۀ په هالنډ کښې په ناڅرګند نامۀ يوه داسي ليکنه خپره کړه چې په ۱۸ پېړۍ کښې په اروپا کښې د واکمنانۏ په چپه له اغېزناکترينو ليکنۏ څخه يوه وه. د دې ليکنې نوم ۏ، **پارسي ليکونه** يا *Lettres Persanes*

مونټېسکو

source: www.republikanisme.nl/montesquieu.jpg

(c) ketabton.com: The Digital Library

په دې لوستني (کتاب) کښې د دوۀ پارسيانۀ، اوسېږک او ريکا د هغۀ ليکونۀ لړی ده چې هغوي د پاريس د استوګنې او نۀړې اوروپا ته د مزلونۀ او سيلونۀ په مهال ليکلي دي او خپلۀ کورونو ته يې لېږل رالېږل شوي دي. دواړۀ پارسيانۀ د اوروپا د سيل او مزله کيسه په خپلۀ ټکيۀ او ډول وړاندي کړې ده.

په ۱۷۵۴ کښې مونټېسکۀ په پارسي ليکونۀ باندي څرګندوني وکولې. هغۀ وويل چې په دۀديزۀ ناولونۀ کښې ليکونکي يوازي هغه وخت له لارې څخه يوې يا بلې خوا ته د اوښتلۀ اجازه لري کله چې دغه اوښتل پخپله يوه نوې کيسه پېنځوي. مګر د « ليکونۀ» په ډول بڼه کښې ليکونکي د لۀبغارې او پېښې په هکله ډېر اړ نه دي بلکه کولاي شي چې خپل فلسفي، سياسي او چلندي اندونه او انګېرنې په اسانۍ سره پکښې ځاي کي او په يوۀ نالېدلي ځنځېر ټولې پېښې وبله وپېيي.



source: i.telegraph.co.uk

پارسي ليکونه د لوستوکو لپاره هسي ليکونه نه ول بلکې يو ستر ناول ۀ.

په ډېرې ليکونۀ کښې د فرانس د پرګنۀ او ديوانونۀ په هکله څرګندوني شوې دي. د پارسي سيلانيانۀ په سترګۀ ځينه بېخي منل شوي دۀدونه ډېر ناپېريت لکيږي. که څه هم دوي ناولده دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

مګر د ازاد چورت خاوندان دي. دوي تل هڅه کوي چې ځايي او سيمه ايز دۀدونه له جهاني او جندوني (*natural*) هغۀ څخه بېل کي او تر منځ يې توپير وکوي.

د بېلګې به تۀګه ، په ليک ۳۰ کښې، ريکا خپل ملګري ايبين ته د پاريس د خلکو د هغه غبرګون په هکله ليکي چې هغوي يې د کاليۀ او دۀديزو ختۀ (جامۀ) په باره کښې څرګندوي. هغه ليکي، « کله چې زه دلته راورسېدلم نۀ دوي ما ته داسي کتل ته به وايې لکه زه چې له اسمانه راکوز شوي يم؛ لويانۀ او ځوانانۀ، ښځۀ او کمکيانۀ ټولۀ لېواله ول چې ما ته وګوري. څه به دي سر خوږوم لنډه دا چې بل به هيڅا ته دومره نۀ وي کتل شوي لکه ما ته چې وکتل شول.»

نۀ ځکه خو ما پرېکړه وکوله چې پارسي کالي بېخي پرېږدم او پر ځاي يې اوروپايي کالي اغږوستل پيل کم. له دې ازموينې وروسته ما ته خپل ريښتوني ارښت څرګند شي چې زه څومره ارزم. چې ګرد بهرني سينګارونه او ډَولونه مي ايسته واچول نۀ هله په دې وتوانېدلم چې د خپل ځان کره ارزونه وکوم. له هغۀ ګنډونکي څخه زما ګيله بېخي پرځاي ده چې زه يې د سترګۀ په رپ کښې د اولس له پامه، درناوي او تلوسې څخه بېبرخې کړم؛ ځکه چې په يوه شېبه کښې يې زه په يوۀ داسي تشي کښې واچولم لکه زه چې بېخي هيڅ شتون نۀ لرم.

مونټېسکۀ د واکمنۍ په ستۏ او تمبۀ باندې په اغېزناکه تۀګه هنکونه او ټوکې کولې. يوه هم په هغۀ کښې کليسا وه.د بېلګې په تۀګه ريکا په خپل ۲۹ ليک کښې ايبين ته داسي ليکل کوي:

نبې چارې،

پۀپ د ميسهانۀ مشر دی؛ هغۀ يو ډېر لرغونی بوت دی چې اوس يې هسې تش د خوی له مخې بندګي کيږي. يو وخت خو هغۀ خورا ځواکمن ۀ، ان چې باچهانو ورځخه ترهه کوله، خکه چې به دوی دومره په اسانۍ سره تخته کوزولای شول لکه په څومره اسانۍ چې اوس زمونږ پرتمين او له برمه ډک سولتانان چې د ارمينيا او جورجيا واکمنان له تخته کوزولای شي. مګر اوس له هغه څخه د هيڅا وېره نۀ کيږي.... نۀ ر شيخان چې کله کله سره يو ځای راټۀل وي نۀ د ګرۀهې (عقيده) چارې ترسره کوي. مګر کله چې يې هر يوازي يوازي وي نۀ د دوی تر ټۀلۀ لۀی کار دغه دی چې وګري له مسبهې ګرۀهې څخه ببزاره او ببلاری کي.

ما اوربدلي دي چې په سپېن او پورتګال کښې ځينه داسي دروبشان او ملنګان هم شته چې بېخي ټوکې او خوشالي نه کتلای شي او يې زغملای شي. هغوی خلکو سختې سختې سزاګانې ورکوي او په اۀر يې داسي سوزوي ته به وايې چې سړی نۀ ۀ بس ګينګرخل ۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

کله چې د کلیسا چارواکي په دغسې لیکنۍ وبوږنېدل او وَ به خشمېدل، نۍ مونټېسکۍ به ورته وویل چې پارسیان خوران خو نابلده دي ببخي زموږ په دۍد او دستور نۀ پوهیږي.

په لیک ۲۴ کښې بیا د فرانس د باچا په هکله لیکي:

نښې چارې،

په نۍورۍ ګایونۍ سبېره، دغه باچا یو لوی جادوګر هم دی. دۀ د وګړیۍ سۍچ هم په خپل ګورت کښې نیولی دی؛ چې څه ډول دی غواړي د دوی سۍچ په هغې خوا اړولای شي. د ببلګې په تۍګه که چیرې په خزانې کښې یوازې یو میلیون روپۍ وي ، او دی دوۍ میلیونۍ ته اړتیا ولري ، دی بل څه نۀ کوي بس دومره هغوی ته وایي چې یوه روپۍ د دوۍ روپیۍ برابره ده ، او بس دوی هرومرو پرې باور کوي.

او که چیرې دی په یوۀ ګران او سخت جنګ اخته وي او روپۍ هم ورسره نۀ وي ، دی بس یو کاغز دوی ته په لاسونۍ کښې ورکوي او ورته وایي چې دا به د روپیۍ کار ورله وکوي، دوی یې هم بې له درنګه او بې پوښتنې منې.

په درناوي
ریکا

(c) ketabton.com: The Digital Library

source: www.jimandellen.org

لوستونکۍ ته چې کوم ځیز زیات خوند ورکړي ۍ هغه د د هغه هرم یا سراي د ورلا او اوپرَوالي (erotic and exotic) ګډه کیسه وه چې پارسي سیلانیانۍ تر شا پرېښودي ۍ. د پیل په یوۀ لیک کښې د اوسپېک مشر خواجه سراي په خپل تۀر بخت مانېجن دي او د دۀ یوه مېرمن بیا ځکه ګیله منه ده چې مېړه یې په کۀر کښې نشته او دا یې د وَرلا له تپاکه کړېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغې به خپل مېړه ته لیکل:

زما هاغه له خونبۍ ډکې شېبې سختې یادې دي چې ته به زما غېږې ته راتلې... څومره بدبخته وي هغه نېغه چې په بدن کښې یې بار او تپاک په غوځنګونۍ وي مګر دَ دې یکیوازي مېړه، هغه څۀوک چې د دې بار ورماتولای شي، هم په دغه وخت کښې هلته نۀ وي؛ دا چې یوازي ځان له پاته وي نۀ خود به د نیمګړیۀ ارمانۀ په تۀوپان کې کړېږي او وخت به همداسي ابته وربانديې تېریږي.

پارسي لیکونه، له توښه او غباره ډک ناول دي؛ یو داسي ناول چې د وَرلا (*sex*) کړاو او ناارامي له ورایه پکښې بریښي. پارسیا «فلسفیان» په اوروپا کښې په خپل یانۀ او مزلۀ کښې د **لوپدیځ** د وَرلا بندیزونه (*sexual taboos*) له خپلۀ هغۀ سره پرتله کوي. مګر له بده مرغۀ څومره زیات چې پارسیان پۀرېژني (مسافر) له کۀره لیري پاته کیږي هغومره په ختیځ هرم (*Seraglio*) کښې ګډوډي زیاتیږي.

مۀنټېسکۀ ته **هرم** د زۀرواکۍ یوه نخښه بریښي، یوه داسي چاره چې بېخي ناجندونه (*unnatural*) ده. په دې کښې هر کس په چټلۍ او درغلۍ اخته وي. خواجه سرایان (نرښځیان) چې له وَرلا څخه بې برخې کړشوي وي هڅه کوي چې د دغه تاوان پۀر د واک ډېرولۀ په بڼه واخلي. په اوسېبک باندې په تۀولۀ مېرمنۀ کښې روخسانه ګرانه وه. مګر هغې په خپل وروستني لیک کښې هغه ته ولیکل،« *مـا لـه خـپل زۀروا ک م□□ه سره جـپـا وکـولـه* ». وروسته هغې خپل ځان په زهرۀ باندي ووژلۀ.

د مۀنټېسکۀ ناول په بازار کښې داسي پلورل کېدلۀ تا به ویل چې خورۀ او سوچه ګورۀ ده. په یوۀ کال کښې لس ځله خپۀر شۀ. مۀنټېسکۀ په ۱۷۱۷ کښې وادۀ وکولۀ. د هغۀ ټولنیز او کورني ژوند خورا بریالي ۀ.

هغۀ به ویل، زه د اوسېبک او ریکا په لاره روان شوم او د اینګلستان په ګډون مي ټۀله اوروپا وکتله. په ۱۷۲۶ کښې هغۀ په پارلیمان کښې خپله چوکۍ وپلۀرله او خپل ځان او وخت یې کاري لیکنۀ ته یوې خوا ته کړۀ. په ۱۷۴۸ کښې کله چې هغۀ د ړندېدلۀ او پیسۀ له ستونزو سره لاس او ګرېوان، نۀ یو داسي لوستني (کتاب)، **د کانون اروا** یا (*The Spirit of Law*) یې خپۀر کړۀ چې د ۱۸ پېړۍ له اغېزناکترینۀ سیاسي لوستیۀ څخه یو ۀ.

ولټایر اینګلستان ته تېښته کوي

فرانکو ماري ارۀ (۱۶۹۴ – ۱۷۷۸) چې وروسته یې د **ولټایر** نوم غوره کړۀ په پاریس کښې زۀکړي ۀ او د جسۀیټانۀ لخوا یې رۀزنه شوې وه. هغه لومړنۍ ادبي بریاوې هغه مهال وګټلې کله چې یې اویډیپس وېرنه (*The Oedipus tragedy*) په نوي ډول ولیکله. ورپسې یې د باتورۍ داستان *La Henriade* ولیکلۀ چې پکښې یې د فرانسې د زغم لرونکي باچا، اوم هینري، نکلونه او داستانونه بیا له نوي سره ولیکل. په دغه کار ولټایر له لوي پېنځلم، له رانې، او د اورلین له ډېوک څخه نغدې پېرزۀینې وګټلې. مګر ولټایر په هنکي شایرۍ او تۀوکۀ ډکو نزمونۀ کښې هم خورا بدنامه ۀ. په ۱۷۱۷ کښې هغۀ یو کال په باسټیل کښې پاته شۀ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

یوه ورځ یې له یوۀ سردار، شاویلایر دي روهان، سره خري کښیښودلې او ورته ویې ویل چې هدیرې دي ورسره ووځي.

همدا سوب ۀ چې هغه د هیواد پریښودلۀ پریکړه وکوله. په می ۱۷۲۶ کښې هغۀ اینګلستان ته ورسېدلۀ چېرته چې هغۀ پخپله ځان دوه کاله پوریژني(*exiled*) کړۀ.

ولټایر

source:www.ymca-coll.edu

له اینګلستان څخه لیکونه

د مؤنټېسکۀ لیکونۀ خو د فرانسي ټولنې په دۀدونۀ او دیوانونۀ باندي سپک او نانېغ ګوزاونه کړي ول. د دغه ځاي سردارانۀ چې به کله هغه لوستل نۀ یو ډول ټوکې به یې ګڼلې چې یوازي دوي وربانديې پوهیږي؛ ځکه مؤنټېسکۀ خو پخپله هم له دوي څخه ۀ. ولټایر بیا یو ارجل وګړي ۀ او د یوۀ یونګر او مزَلي په ټوګه چې یې څه هم په پۀرژنې کښې لیدلي او کتلي ول هغۀ یو ولیکل. د هغۀ **د انګرېز میلت په هکله لیکونه** یا *Letters concerning the English*

(c) ketabton.com: The Digital Library

Nation ، لومړي په کال ۱۷۳۳ کښې په اینګلستان کښې خپارۀ شول او په ورپسې کال کښې د فرانس کښې د فلسفي لیکونه یا *Letters Philosophiques* په نامۀ خپاره شول.



source:www.epubbooks.com

هغۀ به ویل، ما انګرېزي سانچه د فرانس پر ناکامیو او تېریږ باندي د برید کولۀ لپاره وکارولە. زه ځانګړې تۀګه په اینګلستان کښې د ګڑوهې زغم او سهنې، ازاد سیاست او سوداګرۍ او د پۀهنې ځواک او سبک په ما باندي نابېره اغېزې وکولې.

د ولټایر **لیکونه** « د زړې واکمنۍ په چپه » غورزول شوي لومړني بم ګڼل کیږي. په فرانس کښې بیا بیا په غلا چاپ شول. د ولټایر د نیولۀ وایه (*order*) راغله. سرکار یې ټولې چاپ شوې شمارې وسوزولې او په بیا خپرولۀ، چاپولۀ او پلۀرلۀ یې چورلټ بندیز ولګولۀ.

ولټایر د اینګلستان د دین په هلکه

د اینګلستان په هلکه د خپل لوستني (کتاب) په پیل کښې هغۀ څلۀر لیکونه د **کوپکرانۀ** د ګڑوهې په باره کښې لیکلي دي. د هغوي ساده او له زغمه ډک خویونه، او د د هغوي لخوا په ریښتونې تۀګه د اروا او کاري ارزښتونۀ یوځاي کول د ولټایر لپاره خورا په زړۀ پوري ول. که څه هم دۀ به په هغوي پوري هم کله کله نرۍ نرۍ ټۀکې کولې، مګر په دۀ باندي دغه ګاي ډېره ژوره اغېزه کړې وه چې د **کوپکرانۀ** په ګڑوهه کښې پادري هیڅ برلاسي نۀ لري؟

دۀ له **کوپکرانۀ** څخه وپوښتل، تاسي د لمانځه لپاره ملا نۀ لرئ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغۀ يې پوښتنه داسې ور غبرګه کړه:

نۀ، زمونږ ګرانه دوسته، مونږ ټول پخپله دا کار ډېر په ښه توګه کولای شو. خدای دي نۀ کوي چې مونږ به دومره زړۀ ور کيږو چې بس يوازي يوۀ ځانګړي کس ته ووايو چې په دودينې (يکشنبې) د سپېڅلې اروا هرکلی وکوي او نۀ ټول ګروهندوی (Faithful) له دغۀ برکته بې برخې کو.



ولټاير انګليکن، پريسبايټېرين او نۀرۀ ټولۀ ديني ډلۀ او ټپلۀ په باره کښې يو يو ليک وليکلۀ. ولټاير ټول ژوند د کاتوليکي کليسا د نَزغم او نَسهني له تګلارې سره سخت چپ ۀ. مګر د دې مانا دا نۀ وه چې هغۀ له دينه بېخي بې پروا ۀ. بلکې اپوټه ټول ژوند هغۀ مخکې ۀ او د دين سۀرې ورپسې روان ۀ.

يو ځاي خو يې لا دا هم ليکلي دي: «*که چيرې خدای شته هم نۀ وای، هغۀ پېښځول شوی ۀ.*»

(c) ketabton.com: The Digital Library

خپلواک سوچ او سوداګري

ولتایر چې کله په اینګلستان کښې استوګن ؤ بیا به هم کله کله د خپلې سوداګرۍ د خسمانې لپاره فرانس ته په زغرده وربښکاره شؤ. ولتایر یو چالاک سوداګرؤ او په اټکل کولؤ کښې هم خورا تکړه ؤ. هغۀ په سوداګري کښې ښې پیسې ګټلې. د دغې ګټې په مټ خو هغۀ د ازاد اند او چورت ساتلؤ جؤګه ؤ او هم یې ژوند له خوښیؤ او ښادیؤ ډک ؤ. هغۀ به ویل:

« همدې سوداګرۍ خو انګریز ښارندویان Citizens ودان کړي دي او هم یې له هغوی سره مرسته کړې ده چې خپل ځانونه خپلواک وساتي، او همدغې خپلواکۍ بیا په خپل وار سوداګرۍ ته وده ورکړې ده ،او په دې تؤګه د دغه کام ستروالی جؤړ شوی دی. »

تاسي ورشئ د لندن د وتې بازار London Stock Exchange وګؤرئ، چې تر ډېرو دربارونؤ یې هم بَرم او پرتم زیات دی، هلته به تاسي د ډېرو میلتونؤ استازي وویني چې د اینسانانؤ د نښې کړې لپاره به وبله راتؤل شوي وي؛ هلته یو یهودي، مهمدي او مسیهي داسي راکړه ورکړه وبله کوي لکه تؤلؤ دین چې یو وي؛ دوی یوازي وَ هغۀ کسانؤ ته ښکرؤهې کاپران وایي څؤک چې ډیوالیان شي...

د پارلیمان په باره کښې

ولتایر ولیکل: *« د مځکې پر مخ انګریز یوازینی میلت دی چې له خپل باچا سره یې ډغره وَوهله او په دې کښې بریالی شؤ چې د هغۀ واکونه او ځواکونه را کم کي. له ډېرو هڅؤ او کړاوونؤ هغوی د سرکار او واکمنۍ یوه داسي نښه او کارنده اډانه ورغوله چې واکمن یې د نښؤ کړنؤ د ترسره کولؤ لپاره خؤ هر ډَوَل واکونه لري مګر د بدؤ لپاره یې بیا لاس او پښې تینګې ورتړلې دي. په دغې اډانې کښې تؤل سرداران ډېر درانه او د بَرم او پرتم خاوندان دي مګر نۀ خؤ ښځایه غټې او لویې کولای شي او نۀ مینځې او مربیان لري. او اولس او پرګنې بیا بې له کومې پرېشانۍ د سرکار او واکمنۍ په چارؤ کښې پوره پوره برخه اخلي.»*

(c) ketabton.com: The Digital Library

AN EARLY ENGLISH PARLIAMENT

source: www.heritage-history.com

که څه هم ولټاير کله کله د اينګلستان د پارليمان په اولسي جرګې کښې د سياستوالۍ په کړۍ وړۍ پۀوري نرۍ نرۍ ټۀکې هم کوي په تېره هغۀ مهال کله دوي له يوۀ بله سره په مرڼۀ او شخړۀ سر شي. مګر ولټاير چې کوم څيز تر به هر يوۀ زيات ستايي هغه د اينګلستان سياسي اډانه ده چې کمې دستوري باچهۍ *(Limited constitutional monarchy)* باندي ولاړه ده.

ولټاير به ويل: له **ستر لاسونده** *(Magna Carta)* راهيسې اينګلستان په پرلپسې تۀګه د باچا او کليسا له زورواکۍ څخه په خپلواکي ګټلۀ کښې بريالي شوي دي.

اينګلستان ورۀ ورۀ د کانون له برابرۍ اود ټيکس يوې داسي اډانې سره روږدي شۀ چې هيڅۀک تري ازاد نۀ ۀ بلکې پر هرچا باندي يوشان لګېدلۀ. (په فرانس کښې څۀ لسيزې وروسته هم پر سردارانۀ او ملايانۀ باندي د ټيکس لګونه يوه غټه مرڼه وه. همدغې مرڼې هغه بڅرې تازه کړل چې غرغنډي يې نرۍ د فرانس د اوښتنې *(Revolution)* په بڼه کښې وليدلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لیتوالې سرخپلان

د لیتوالان سرخپلان دري انګریزي مړونه ول: بېکن، لاک او نیوټن. ولټاير خپله تر ټولۀ ستره لیکنه «لیکونه»، او الېمبرټ او دېډېرۀ خپل «پۀهنټۀول» (*Encyclopedie*) هم وَ دغۀ درېیو ښاغلیۀ ته ډالۍ کړې وه.



جان لاک



ایساک نیوټن

(c) ketabton.com: The Digital Library

فرانسيس بيکن

په کال ۱۷۸۹ کښې تامس جيفرسن (۱۷۴۳ – ۱۸۲۶) د خپل لوستون (لايبريري) لپاره د دغو درېيو انګريزي نباغليو يو ګډ انځور راوغونښتلئ. هغۀ به د دوي په باره کښې ويل: دوي د جندي او خويي پوهنۀ (physical and moral sciences) بنسټونه اچولي دي ... دوي درېواړه سترترين اينسانان ول چې تراوسه يې ساري نۀ دي پيدا شوي.



تامس جفرسن

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ښاغلي فرېډريک ميلښوير فؤن ګريم به ويل، مؤنټيسکؤ او ولټايړ خو دواړه دغؤ سترؤ انګرېزي فلسفيانؤ شاګردان ول او د هغوي په پلۀ يې پلونه کښېښودل. که دغه انګرېزان نۀ واي نو په فرانس کښې به فلسفه او ريښتينې (*Reason*) لا اوس هم ښېخي کچه وه.

فرېډريک ميلښوير فؤن ګريم

د تجربوي فلسفې پلار

تر لاک پخوا فرانسيس بېکن (۱۵۶۱ – ۱۶۲۶) په تجربوي ډګر کښې خورا زيات کړي ؤ. ټول هغۀ د «د تجربوي فلسفې د پلار » په نامۀ پېژني.

هغه به ويل:

«زه په پوهنې کښې د يوې سترې سمونې لؤري کوم. زه د واکمنؤ لخوا راکړ شوې پټې او ړندې ګرؤهې په کلکه ردوم او په ځاي يې يوه داسې نرۍ خپلوم چې په هؤش او تجربې ولاړه ده»

بېکن به ويل چې پوهنه د ونې د څانګؤ غوندي وېله وېشلې ده. د دغې «پوهنونې» غټې غټې څانګې د دماغ له دغؤ دېبو ځواکونؤ راټوکيږي: **يادېې، انځؤرنه** او **ريښتيې**.

يادېې:	د پخوانۍ پوهې سرچينه
انځؤرنه:	د بدلې (*poetry*) سرچينه
ريښتينۍ:	د فلسفې سرچينه

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنونه

جان لاک او سیاست

د لاک اغېزې یوازې تر فلسفې پورې لنډې نۀ وې. د هغۀ سیاسي لیکنۀ هم په دیدېرۀ، جفرسن او د لیتوالې نۀرۀ سمونوالان باندې اغېزه کړې وه. لاک په هالنډ کښې پورېژنې (*exiled*) ۀ. دې له هغۀ ځایه له خپلۀ دوۀ لیکنۀ« د واک تړونونه » او د «اینساني پۀهې په باره کښې یوه لیکنه» سره یو ځاي اینګلستان ته راستون شۀ. دغه دواړه لیکنې یې په ۱۹۶۰ کښې خپرې کړې.

په دغۀ لیکنۀ کښې هغه په دې یوۀ ګاي باندې ډېر زیات زۀر اچولۀ او ویل به یې، « د *اولس خونښې د سرکار د واکمنۍ یوازینۍ بنسټ دي.*» **په بله وینا هغه د** پښتۀ متل، چې په زۀر کلي نۀ کیږي.

د سرکار د کارونۀ په باره کښې به یې ویل، «*سرکار بله هیڅ دنده نۀ لري پرته له هغۀ درېیو لومړنیو دندو څخه د کومۀ د پوره کولۀ لپاره چې سرکار رغول شوي دي. او هغه درې دندې دي: د ځان، خپلواکۍ او مال ساتنه.*

لاک اولس ته وروښودله چې که چېرې یو باچا یا واکمن د اولس له خوښې پرته یوه خپلسرې واکمني کوي «نو بیا اولس هم ازاد دي چې د ځان غم پخپله وخوري» د یوۀ زۀرواک له زۀراکۍ سره ډغره وهلۀ لپاره یاغیتوب ببخي روا دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ایساک نیوټن

د سر ایساک نیوټن (۱۶۴۲ – ۱۷۲۷) ساینسي بریاوي ډېرې سترې وې. نیوټن له ګاټفریډ ویلهېلم (۱۶۴۶ – ۱۷۱۶) سره په ګډه په **ګټترې** *(Maths)*کښې د **شمېرَندې** یا (*Calculus*) په نامه یوه نوې مګر ډېره ګټوره لاره ورغوله . د نیوټن شاهکار لوَستني، چې (**د جندوني فلسفې شمېرندویه ستې**) یې نوم ؤ، د خوزښتپوهنې په نوې تؤګه شننه او پېژندنه ترسره کړه. نیوټن په دغه لوستني کښې د مځکؤ او نؤرؤ سپوږمیو د خوزښتونؤ او چورلېدلؤ په باره کښې د کېپلر او ګالیلیؤ کارونه خورا په ښه تؤګه وَبلله یو ځای او جؤړ راجؤړ کړل.

نیوټن به ویل: ما د جهان د اؤډون او د سپوږمیو د خوزښت په باره کښې یوه داسي ستره شننه او څرګندونه د نړۍ مخې ته کښېښؤدله چې په ګټترې باندي ولاړه ده. ما د راکښنې *(Gravitation)* په باره کښې د یوه جهاني کانون وړاندیز کړي دي چې دا مي هم ویلي دي چې د هسک تشیال ناپایه (*infinite*) دي.

په کال ۱۷۰۴ کښې نیوټن په خپل دؤیم لوستَني (**لېمۀ**) یا (*Optics*) کښې د رنا د جندون او څرنګروالي په باره کښې خپلې پرېکړې ډاګیزې کړې. د دغه لوستني په پای کښې هغه یو څؤ اټکلونه او ورسره یو څؤ داسي پوښتنې هم ولیکلې چې بیا په درسته ۱۸ پېړۍ کښې د ساینسپوهانؤ لخوا پرې لټون او ګروېږنه روانه وه.

کله چې نیوټن خپلې لېکنې خپرې کړې نؤ د ډېرؤ ناساینسي لیکوالانؤ لپاره ښېځې په زړه پؤرې وې. په هغؤ کښې یو پخپله ولټاېر هم ؤ. دغؤ لیکوالانؤ به نؤ اوس داسي انګېرله چې دا جهان ښېځې میخانیکي دي ان چې پخپله نیوټن هم دومره چورت نۀ ؤ وهلي. دوي به ویل چې د نیوټن د وینا له مخې دغه جهان یوه داسي اډانه لرې چې پخپله ځان اؤډي هم او سموي او برابروي یې هم.

د نیوټن د ګټترې د فارمولؤ، د خوزښت کانون او نؤرؤ څرګندونؤ ښکلا دغه وه چې جهان یې په دومره ساده او اسانه تؤګه مور ته راوپېژندلؤ چې پخپله نیوټن به دا چورت نۀ ؤ وهلي.

ریښتیا خو دا ده چې پخپله **راکښته** یو له رازه ډک ځواک ؤ.

نیوټن، که د پؤهنې یوه سامچه *(Model)*

نیوټن چې په جندپوهنې (*physics*) کومې بریاوې تراؤسه موندلې وې لیکوالانؤ غوښتل چې بېلګې یې د پؤهنې نؤرؤ څانګؤ ته هم پراخې کي. مانا دا چې نیوټن د ریښتوني ساینس لپاره د یوې سامچې، نخچې یا بېلګې په تؤګه غوره کړل شؤ. د بېلګې په تؤګه ولټاېر هیله څرګنده کړه چې یوه ورځ به راشي چې د جندپؤهنې لارې او تؤګې به په تاریخ پېژندنه او لیکنه کښې هم وکارول شي. مور غواړو چې اینسان په پوره او بشپړه تؤګه وپېژنو، کټمټ په هغه ډول کوم چې په جندونپؤهنې کښې ترسره کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلسفيان

مؤنټېسکۀ، ولټایر، دیدېرۀ، روسۀ، بوفۀن، کاندیلاک، تورګوټ، کۀنډۀرسېټ، مۀرلېټ، دي هۀلباخ، هېلوېټیس، ګریم او راینال.

مؤنټېسکۀ او ولټایر چې کومه لاره پرانیستله نۀر ټۀل لیکوالان او رۀښندویان په هغې روان شول او په په ځانونۀ کښې یې یو داسې نوي ډاډ او باور وموندلۀ چې په پاي کښې جګړه تري وزېرېدله. د پاریس په سماورونۀ، دېرۀ، هوجرۀ او هټیۀ کښې یو نوي کول را په ټوکېدلۀ ۀ. دغه کول ته یې ویل: فلسفیان.

دوي په د اند او چورت فلسفیان روښندویان او لیکوالان خو ول، مګرفلسفه یې پېشه او دنده نۀ وه، او نۀ هم دوي د پۀهنتونونۀ سترستر لیکوالان ول. بس دا د هغۀ مهال د پاریس انځورنۀ، مرنۀ کشالۀ، ریښتینیۀ او ورسۀ چاپېرچل ۀ چې د لیتوالي دا سرخېلان یې وزېرول. په دغۀ ځایونۀ کښې به د لیتوالي د جنګره ځانګۀ غړي وَبله راغونډېدل. هغوي به دلته اندونه څرګندول او چورتونه به یې وهل، لیکني به یې کولې او هم به یې په خپل منځ مرنې او کشالې وَبله کولې او هم به یې له نړۍ سره ریښتینۍ او ورسې کولې.

فلسفیانو د نوي جوش، ریښتینۍ، زغم او پرمختګ ملایان، سرتېري او خورونکي ول. ولټایر به هغوي ته په چیغۀ چیغۀ ویل چې وَبله یو شۍ او یوه د ریښتینۍ ګوند جوړ کۍ.

مګر د دغه غورځنګ په اوډلۀ کښې لوي لاس د دېنیس دېدېرۀ (۱۷۱۳ – ۸۴) ۀ چې ګڼ شمېر جۀشنده (*Radical*) اندیالان یې وَبله یو کړل او د هغۀ وخت د لیتوالۍ تر ټۀلۀ ستر کار د پۀهنګرده (*Encyclopedie*) په لیکلۀ کښې یې بوخت وساتل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دپنس ديدپرؤ

د فلسفيانؤ دوښمنان خورا خواشيني او خشمډلي ول. هغوي به لومړي پوښتنې کولې چې دا فلسفه يې بيا څه بلا ده؟ او بيا به يې په ځواب کښې ويل: دا په ټؤلنې کښې يوه داسې بلا راپؤرته شوې ده چې نۀ کوم دؤد منې او نۀ دستور، نۀ د د ټؤلنې سياست ته غاړه ږدي او نۀ يې دين ته. دا د داسې کسانؤ يوه ډله ده چې هر ډول ناپرېتې ته يې زړه وشي نؤ سرپه پرې نۀ کوي.

مګر پخپله پؤهنګرده بيا د يوۀ فلسفي پېژندنه په دې ډول کوله:

فلسفي خو هغه کس دي چې کرکه، دؤد، سرکوزي، بَرم، يا په بله وينا هر هغه څه چې د ډېرو ماغزه يې غلا مان کړي دي، تر پښؤ لاندې کوي. هغۀ لومړي په ډاګه د خپل ځان په باره کښې چورت وهي، بيا ورځي د سپينۀ او سيده لارؤ لټون کوي، او پرته له خپلې تجربې او رينښتينې هيڅ هم په پټۀ سترګۀ نۀ منې.

د ليتوال غورځنګ مېرمنې

فلسفيان يوه ورؤرولي جؤړه کړې وه. هغوي ښې ښې کسان ول مګر په يوه ګډۀ کښې وبله يوځاي شوي ول. په برتانيې کښې مېرمنې له سماوارونؤ او دېرؤ څخه څه نا څه لرې ساتل شوې وې. (که څه هم کنجرۍ به کله هم دومره دېرې لرې هم نۀ وې) په فرانس کښې بيا د

(c) ketabton.com: The Digital Library

فلسفيانۆ لويي لويي ناستي او غوندې به په سالونونۆ کښې ترسره کېدلي. په دغۆ سالونونۆ کښې به د دواړۆ جنسونۆ ترمنځ په ازاده تۆګه د انديالۍ او پۆهنې اترې او ورسې کېدلي. زياتره به د ناستې مشري هم يوې مخَورې مېرمنې کوله.

که څه هم په فرانس کښې انديالي يوازي او يوازي د نارينۆ کار نۀ ۇ مګر بيا هم د نجونۆ په پرتله زياتره به هلکانو دې ډګر ته رادانګل. پخپله دايدېرو د ښځمنۆ خورا درناوي کولۆ او ويل به يې چې هغوي ښې اورېدونکي دي ځکه چې ډېر ښه غوږ ږدي. هغه به ويل، د ښځمنۆ د ګډون له کبله ډېرې وچ او ځيرې ګايونه هم خورا نرم او خوندور شي. موږ ورۆ ورۆ له هغوي څخه د ورسې او اترو چل او ډول زده کوو. پسته بيا دغه کړۀ وړۀ زموږ په ليک کښې هم راڅرګند شي او وځليږي.

د مادام جيوفرين سالون

سالونونه به د **بارون دي هولباخ** او **هېلويټيس** غوندي فلسفيانۆ په کورونۆ کښې هم لګېدل. نۆرټۆل سالونونه د مېرمنۆ ول. په دوي کښې ميمه دو ديفاند، ميمه جيوفين، ميله دي لا ايسپياس او ميمه نېکر ډېرې نامتو وې. يو سالون چلول خورا هوښياري او چل غوښتلۆ چې انديالان او ليکوالان پکښې خوښ او ماندوره واي او هم يې پوره پوره درناوي شوي واي. د پۆهنګرده يا *Encyclopedie* د ليکوالانۆ ټۆلي به هم په لومړي سر کښې په همدغۆ سالونونۆ کښې پله راغونډېدلۆ او په همدغۆ ځايونۆ کښې يې په کار يې پيل وکولۆ.

د دغۆ مېرمنۆ کار يوازي سالونونه چلول نۀ ۇ. بلکې په هغوي کښې ځينه ډېرې تکړه انديالانې او ليکوالانې وې.

(c) ketabton.com: The Digital Library

میمه دي ایپینې (۱۷۲۶ – ۸۳) یوه ټیټکی، کمزوري مېرمنه وه مګر سترګۍ به یې هر وخت ځل وهلۍ. هغې تر ډېرو کلونۍ ولټایر او دیدېرۍ په خپلې مینې کښې وساتل. بیا هغه په فرېډریک مېلکویر فون ګریم (۱۷۲۳ – ۱۸۰۷) باندې مینه شوه. هغې ته روسۍ هم ډېر خوند ورکولۍ که څه هم د هغۀ د ژر خشمېدلۍ د خوي هم ښه ورته پته وه.

میمې دي ایپینې به د ګریم د په مهالنۍ **د لیکوالۍ ټپال** یا (*Correspondence Litteraire*) په کار کښې ښه غوښنه ونډه اخیستله؛ لیکنې به یې ورته کولې، په تیاتر او لوستنیو، به یې بیاکتنې کولې، او هم به یې په چۍچ *(Economy)*، سیاست او فلسفې په هکله کښل او ورسره ورسره به یې کله کله سندرې او بدلې هم لیکلې. کله چې به ګریم کومې خوا ته په یانه او مزله ولاړۍ نۍ د مهالنۍ چارې به هغې او دیدېرۍ ترسره کولې.

مارکوسې اېمیله دو چاټېله (۱۷۰۶ – ۴۹) تر ډېرۍ کلونۍ د ولټایر انډیواله او اینجل وه. دوي په کال ۱۷۳۳ کښې وَبله ملګرتیا شوه کله چې ولټایر ۳۹ کلن ۍ او هغه ۲۷ کلنه وه. دا تر اتۍ کالو واده شوې مېرمنه وه او درې کمکیان یې لرل. پسته له هغې څخه یوه داسې پوهیالۍ ښځه جوړه شوه چې په هرڅه پوره وه. هغې الجبر ولوستلۍ. هغې نه یوازې نیوټن فرانسوي ته وژباړلۍ او له ولټایر سره یې کار کولۍ، بلکې ځان له یې د ساینس په هکله ډېرې په زړه پورې لیکنې هم وکولې.

په ۴۳ کلنۍ کښې هغې نوي مین، ۲۷ کلن مارکوس دي ساینټ لامبرټ ومونډلۍ او ورڅخه بلاربه هم شوه. که څه هم ولټایر د هغې خورا ډېره وزله کوله مګر له زېږون وروسته ډېره ژر هغه مړه شوه. ولټایر د هغې په مړینې ډېر غمجن ۍ. هغه به ویل « ما د ۲۵ کالو ملګرې وبایلله. هغه یوه تکړه سړي ۍ مګر یو خلېت یې لرلۍ چې هغه ښځه وه .»

لوستونکي او بندیزونه

فلسفیانۍ به لیکل د چا لپاره کول؟ په لومړي ګام کښې هغوي د خپلۍ ملګرۍ فلسفیانۍ لپاره لیکل چې په یوه جهاني جال کښې وَبله پېیلي او ټرلي ول. مګر له دې سره سره په اولس کښې هم د هغوي لوستونکي په چټکۍ زیاتېدل. که څه هم په اینګلستان او هالنډ کښې بندیزونه نه ول مګر په نۀره اوروپا کښې هغه د یوې وېرونکي درستې په تۀګه د اندیالانۍ په چپه کارول کېدل. هرې چاپوني او خپروني به د سرکار لخوا اجازې ته اړتیا لرله. په فرانس کښې کوټوالان ډېر ژر په دې پوه شول چې د لوستنیۍ (کتابونۍ) سوزول ګټه نۀ کوي بلکې لا یې نامتو کي او بیا یې په پلۍر کښې هم زیاتوالي راشي. نۍ د سوزولۍ پرځاي به ښه دا وي چې پلورونکي او چاپوونکي بندیان شي او لوستنې یې ولکه شي. په دې تۀګه به د هرچا خولې بندې شي.

ساینس او رغا

په رغا *(Industry)* او تیخنیکپۀهنه کښې نوي کارونه د سکاټلنډ له لیتوالي سره ټرلي ول. سکاټلنډي جېمزوات (۹۱۷۳۶ – ۱۸۱۹) یو ټوبس اینجن *(Steam Engine)* جوړ کړۍ چې ډېر چټک او کارندۀ ۍ. د هغۀ ځواک مېچلۍ لپاره یې د اس زۍر یا (*Horsepower*) یاوې *(Unit)* هم دۀد کړۍ. د مشین پېر هغه مهال پیل شۍ کله چې د برتانیې په ډاربیشایر کښې د ټوبس د ځواک

(c) ketabton.com: The Digital Library

او د اوسپني د بټيو تر منځ نيژدېوالي رامنځ ته شؤ. په دې سره برتانيه د رغاوښتني *(Industrial Revolution)* منځي *(Centre)* شؤ. جېمزوات به ويل، « زمور هيواد د نړۍ کارهټ *(Workshop)* دي »

جېمز وات

د جېمز وات توښ اينجن

(c) ketabton.com: The Digital Library

پوهنګرده (*Encyclopedie*)

د لیتوالي تر ټولو زیاته له کریشمي ډکه زېږنده او اغېزناک یادګار پوهنګرده (*Encyclopedie*) ؤ. په لومړي سر کښي دا د ایفرایم چېمبرس د سایکلوپیډیا، چې په ۱۷۲۷ کښي په اېډنبرا کښي خپره شوې وه، د ژباړې او بیاکتنې په ټوګه پیل شوه. دېنیس دډېرو او **ژان لي روند دي الېمبرت** دې کار ته ملا وتړله.


ENCYCLOPÉDIE,
OU
DICTIONNAIRE RAISONNÉ
DES SCIENCES,
DES ARTS ET DES MÉTIERS,
DÉDIÉE
L' ARCHIDUC
PIERRE LEOPOLD
GRAND-DUC DE TOSCANE
TOME PREMIER.
À LIVOURNE

پوهنګرده

د پوهنګردې لومړي ټوک (ټولنګرده، یا د پوهنې، هونرونؤ او کارونؤ د شننې کاموس) په کال ۱۷۵۱ کښي راوَوتلؤ. په پورې کېدلؤ یې ۲۰ کاله تېر شول. کله چې بشپړ شؤ نؤ ۷۲،۰۰۰ بېلابېلې لیکنې او ۲،۵۰۰ انځورونه پکښي ول.

دي المبرت یو شمېرپوه ؤ نؤ ځکه به یې همېش ډېر درناوي کېدلؤ مګر په ټولنګرده باندي زیات کار د دیدېرؤ لخوا ترسره کېدلؤ. دیدېرؤ په د لیکوالانؤ په راپیدا کولؤ کښي خورا بریالي ؤ. په دغؤ لیکوالانؤ کښي د مؤنټېسکؤ، ولټایر، چارلس دکلوس، روسؤ، ساموېل فورمي، دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هولباخ، مورلي، اندري تيوفيل دي بورديو، جاکس دي واکانسمن غوندي فلسفيان هم ول. وروسته له هغه سره چوالير دي جازکورت (۱۷۰۴ – ۹۹) مرسته پيل کړه چې پخپله تازه د ليتوالي غورځنګ ته راغلي ؤ او يو نۀ ستومانه کېدونکي مېړني ؤ. هغه د ديدېرؤ غوندي پخپله هم په سلګونو ليکنې وکولې او ورسره ورسره به يې د هغې ډلې د کار ځارنه هم کوله چې د ليکنؤ په اوډون او سريښتې کښې بوخته وه.

ژان لې روند دي الېمبرت

پوهنوَنه *(Knowledge Tree)*

دي المبرت چې د پوهنګردي لپاره کومه لومړنۍ کښنه وکوله په هغې کښې يې وليکل چې زه به لوستونکؤ ته د پوهنې د ببلابېلؤ ځانګؤ په هکله يوه کتنه وړاندي کم او دا به هم ورته جوته کم چې دغه ځانګې ځنګه د يوې ونې غوندې په تنه او وليؤ کښې بېرته وېله يو کيږي. دۀ د دغۀ کار لپاره هغه انځور وکارولؤ چې پخوا يې ببکن کربنه *(Diagram)* کړې وه او بيا وروسته چامبر په پخپلې سايکلوپېډيا کښې اچولي ؤ. المبرت به ويل: د ببکن غوندي زه هم دا باور لرم چې د پوهنې ببلابېلې ځانګې نېغ په نېغه د دماغ له وړتياؤ او ځواکونؤ سره تړلې او اخښلې دي.

مګر سره له دې بيا هم کله کله داسې کېدلاي شي چې زمور هؤش او سَدبَد د ريښتينۍ موندنې لپاره لاره پيدا نه کړاي شي او ناسمه لاره برابر شي. په پوهنونې کښې د کليسا دوديزؤ اندونؤ ته په درنه سترګه نۀ کتل کېدل او د پوهنې په کتار کښې ډېر کښته ځاي ورکړ شوي ؤ.

(c) ketabton.com: The Digital Library

د تاریخ «سترترین مېړنۍ » څوک دي؟

المبرت په خپلې لومړنۍ کښنه کښې دا هم ولیکل چې د تاریخ « سترترین مېړنۍ » باچهان او سوبه وال نۀ دي بلکې پوهان او فلسفیان دي. المبرت وایي چې دغه مېړنۍ د بېکن، ډېکارټ، نیوټن، لاک، ګالیلیو، هاروي، هوینز، پاسکل، فونټنېلي، کوندیلاک، مؤنټېسکؤ او روسؤ غوند کسان دي. دوي وشړل شول او ورټل شول، مګر بیا یې هم د راتلونکي کول لپاره په یوازي سر جګړه وکوله. دوي د خپل همځولي کول لخوا سپک شول مګر نوي کول یې پرځاي او پوره پوره درناوي وکولؤ.

د اوستکارۍ، کاریګرۍ او پونګۍ ستاینه او لؤینه

په پوهنګرده کښې د کاریګرۍ، اوستَکارۍ، میستریټوب، ترکانۍ، اوبدنې، خټګرۍ او ورسره ورسره د پوڼګۍ او بنجاریټوب خورا ډېره ستاینه او لؤینه وشوه. په پوهنګرده کښې د دغه کار لپاره ځان ته ګوَښې یوه پراخه او اوږده برخه ټاکل شوې وه چې سرلیک یې **تؤکي** *(Material)* ؤ. پوهنګردې له ساینسونؤ او هونرونؤ سره سره اوستَکارۍ، کاریګرۍ، پېښؤ، دندؤ او کارَندتوب ته هم پوره پوره پاملرنه وکوله.

دیدېرؤ، چې پخپله هم د یوۀ پَښ زوي ؤ، دغه کار ته ډېره پاملرنه کوله. هغۀ په ټؤل فرانس کښې ګړدوړد او کوز پاس وګرځېدلؤ او له کاریګرانؤ، پښانؤ، ترکانانؤ او نؤرؤ بېلابېلؤ میستریانؤ سره به یې مرکې، غورې او اترې کولې او د هغوي د کار او دندې په باره کښې به یې اګاهۍ راغونډولې. دیدېرؤ به ویل، « ما به هغوي ته زارۍ او جګۍ کولې چې زما لپاره یوځل خپله ټؤله درسته، سامان او اوزار راغونډ کي او زما مخې ته دي یې کښېږدي چې زه یې کرښنې (*Drawing*) وکاږم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



پوهنګرده په دې وتوانېدله چې د فرانس اولس ته په ډېره اسانه تۀګه د کالیۀ، جۀرابۀ، پیزار جۀړولۀ رانیولې بیا تر ډۀډۍ پخولۀ هر څه وروَښیي. لنډه دا چې داسې هیڅ کار، دنده او پېښه نۀ وه چې په پۀهنګرده کښې یې په هکله اګاهي شته نه وه. تر دې پخوا به لیکنې د داسې کارونۀ په باره کښې کېدلې چې د وګړۀ لپاره به یې په ورځني ژوند کښې هیڅ ښَمر نۀ لرلۀ. مګر پۀهنګردې د لیکنۀ او کښنۀ دَول ډال او لۀړي لۀدن بېخي بدل کړۀ.

په پخواني فرانس کښې هم اوستکارانۀ کاریګرۀ او میستریانۀ ته په ټیټه سترګه کتل. د هغۀي هونر ته بېخي د هونر په سترګه نۀ کېدل. دیدېرۀ به ویل،

« څومره بده ده، کوم کسان چې د زیاتې ستاینې او لۀینې وړ دي هغوي ته په ټیټه سترګه کتل کیږي. له یوې خوا مودې غواړو چې هغوي دي په خپلۀ کارونۀ او دندۀ کښې لګیا اوسي او زمودې ارټیاوې دي پوره کوي او له بلې خوا تۀولنه له هغۀي څخه کرکه کوي.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د بري څوکه

د پوهنګردي غوټۍ غوټۍ او درنۍ درنۍ ټوکونۍ د ټولنې پوړته پورې باندي خورا ژوره اغېزه کړې وه. په دې باره کښې ولټاېر يوه لنډه کيسه وليکله. دغې کيسې جوته کړه چې پوهنګردي د ټولنې په ودانۍ او بڼايانۍ او ان پخپله په باچا باندي څومره غېزه کړه ده. کيسې داسي ليکي:

« يوه ورځ ماځيکر باچا ، لويي پينځلسم ، له خپلۍ نيژدې دوستانۍ سره ډوډۍ خوړله. دوي د ببلابېلۍ کيسۍ او پېښۍ په باره کښې غږېدل. په دې منځ کښې د نبکارلوبه وچېړل شوه او ورپسې يوۀ پکښې وويل چې د تۀپک باروت څنګه جوړيږي. د باروتۍ په جوړولۍ خۀ هيڅۀوک نۀ پوهېدل. باروت څه ډېر نۀور داسي تۀوکي هم ول چې هيڅا يې په باره کښې اګاهي نۀ لرله. د ببلګې په تۀوګه د رانې. بارخوګان چې په کوم سينګار او سورخي د سرۀ اننګۀ په شان نبايسته ول، او د هغې په نبکولۍ ، سپينو او مهينۍ لپنګۀ چې کومې ورپښمينې جۀوراېې وې هغې ته پته نۀ وه چې دا څنګه او له څه څخه جوړيږي.

په دې منځ کښې، په دوي کښې يوۀ کس غږ وکولۍ چې مور د خپلۍ پونښتنۍ ځوابونه يوازي او يوازي په پۀهنګردي کښې موندلای شو. چې دا يې واورېدل نۀ يوۀ نۀوکر په زغرده ور ترڀ وهل او په تلوار او د په د سترګۍ په رڀ کښې يې پۀهنګرده ورته راوړه...

په پۀهنګردي کښې دوي ژړژړ باروت، سورخي سينګار، سرسنه، ورپښم ، اوبدنه وموندل. ورپسې نۀ دوي ډله ډله په ببلابېلۍ ټوکونۍ باندي وبله راغونله شول. لنډه دا چې هرڅه چې د دوي پکار ول هغه پکښې ول. کومۀ کسانۍ چې کانون لوستلۍ هغوي پکښې د کانون په هکله اګاهي وموندله. باچا ته بيا پکښې د خپلۍ واکونۍ په هکله اګاهي څرګنده شوله. کله چې دوي تۀول د پانۍ په اړولۀورا اړولۍ لګيا ول، يوۀ لوي خان، چې کومتې دي سي نومېدلۍ، باچا ته وويل:

« باداره، مور ډېر بختَور يو چې ستا په باچهي کښې وګړي د هر هونر او پۀهنې زدکړه کوي او بيا خپله پۀهنه راتلونکي کول ته پرېږدي. په دې کښې خو هرڅه شته، د يوې ستنې له جوړولۍ رانيولې بيا ستا تر سترۀ سترۀ تۀپونۍ پوري. هر ډول تۀوکي، له ببڅي کوچني څيز څخه رانيولې بيا تر ببڅي لوي پوري...

په فلسفيانۍ برېد

داسي هم نۀ نۀ وه چې د پۀهنګردي هرځاي هرکلي شوي ۀ. کوم فلسفيان چې دغه ستر کار لګيا ول له ډېرې سختې غندنې او يرغل سره مخامخ ول. د اېلي فرېرۀن، چارلس پاليسوټ او

(c) ketabton.com: The Digital Library

جېکب نیکولس موریۍ غوندي لیکوالانۍ په پۍهنګردي پوري تۍکي او هنکونه ولیکل او جېسوټي مسهیانۍ بیا تۍر ولګولۍ چي په پۍهنګردي کښي چي هرڅه لیکل شوي دي هغه له نۍرۍ سرچینۍ څخه غلا شوي دي. په کال ۱۷۵۲ کښي د ګردپۍهني د لومړینۍ دوۍ ټوکونۍ له خپرېدلۍ وروسته د فرانس په باچا باندي دا ومنل شول او هغه اړ ایستل شۍ چي په پۍهنګردي باندي چورلټ بندیز ولګوي.

په کال ۱۷۵۷ کښي یوۍ جورنالیسټ چي فرېرۍن نومېدلۍ د بندیزونۍ د څانګې مشر چارواکي، مېلشربر، ته وویل چي ډیدېرۍ یو ډېر چالاک او بدنامۍ کس دي. ورته ویې ویل چي هغه د یوې ګډوالې (*Company*) د سرمیر دي او د یوې داسي ټۍلنې مشر دي چي ورځ او شپه په چلونۍ او چلوټۍ لګیا ده.

په کال ۱۷۶۰ کښي پالیسوټ یو هَنک (*Comedy*) ولیکلۍ. د دغه هَنک نوم ۍ، **فلسفلیان**، چي روسۍ یې د یوۍ ځنګلي بیزۍ پۍ بڼه پکښي ښۍدلي ۍ او همدا شان یې هېلویټیس، دیدېرۍ او دکلوس هم د نۍرۍ بۍدَګانۍ په بڼه ښۍدلي ول.

هغۍ به د دغۍ فلسفیانۍ په هلکه ویل: « دغه د ببلاړې شویۍ کسانۍ یوه ټۍله ده چي ساده او وزګاړې نېغې تېرې باسي او ډېرې غټې غټې باتې ولي. »

د کال ۱۷۵۸ کړکېچ

په کال ۱۷۵۸ کښي دیـ المبرت د پۍهنګردي لپاره د سویس د غوړېدونکي ښار، جنېوا، چي په هغۍ وخت کښي ځان ته یو دولت ۍ، په هلکه یوه لیکنه وکوله. په دغې لیکنې کښي هغۍ ویل چي که په جینېوا کښي له تیاتر څخه بندیز پورته شي نۍ دا به ډېر ښه کار وي. په همدغې لیکنې کښي هغه د دغه ښار د ملایانۍ او شیخانۍ په وچۍ وچۍ او ببخوندۍ بندیزونۍ هم نیوکې وکولې. دغۍ نیوکۍ په فرانس کښي هم دیندوسته کسان هم راوَپارول او پاې دا شۍ چي پارلیمان پۍهنګرده ناکانونه کړه.

المبرت، چي د پۍهنګردي سرېښته ګر یا (*Editor*) ۍ، اړ شۍ چي له خپلې دندې لاس په سر شي. له هغه وروسته نۍ ټۍله چاره د ښاغلي دیدېدرۍ په غاړه شوه.

په کال ۱۷۵۸ کښي چي د هېلوټیس په لیکنې ، اروا، باندي کوم شۍر را پۍرته شۍ او په دا بل کال چي د دیدېرۍ په پۍهنګردي باندي کوم بندیز ولګېدلۍ هغۍ فلسفیانۍ ته د تاوان په ځاې ګټه ورسوله. ولټایر چي هرځومره چیغې او سورې هغوي ته ووهلې چي په یوه ګوند کښي دي وَبله راټۍل شي مګر راغوند نۍ شول. مګر اوس چي د دوښمنانۍ لخوا ورباندي زۍرنه (*Pressure*) راغله هغوي بله لاره نۍ لرله بلکې اړل ول چي وَبله یو شي. غندونکۍ هغوي د تباه کولۍ په ځاې لا نۍر هم ځواکمن کړل.

مالېشېربېس – یا « مۍنسیور ګیلاومې»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د پۀهنګردې لیکوالان ډېر بختور ول چې کله کړکېچ د دوي ټۀله کار او زیار له تباهۍ سره مخامخ کړۀ په همهاله مهال د دوي یو ملګري، **مالېشېربېس،** ته د خپل پلار، چې د فرانس نوي چانسلر ۀ، لخوا د بندیز څانګې، (*censorship*)، مشر وټاکل شۀ. **چرېټین – ګیلاومې لامۀیګنۀن دې مالېشېربېس،** (۱۷۲۱ – ۹۴) د یوۀ ازاد اندیال په ټۀګله یوه اوږده او ځلېدلې دنده ترسره کړه ځکه چې پخپله یو ډېر باتور لیتوال هم ۀ. که چیرې **مالېشېربېس** نه واي نۀ د پۀهنګردې لیکونکۀ به هیڅکله دومره زړَورتیا هم نۀ وه کړې ان چې خپل اند او سۀچ پرګنۀ ته څرګند کې. **مالېشېربېس** به په خپله هم ویل، « ما د یوۀ وخت لپاره د فرانس په بندیزڅانګه کښې دنده ترسره کوله. خو ما به ازادې وینا او ازاد سۀچ کلکه او پخه ګرۀهه لرله. ډېر کله داسې هم وشول چې **مالېشېربېس** به دیدېرۀ او دې المبرت ته د پردې له شا په پټه پټه پنا ورکول او هغوي به یې ژغورل. کله چې په کال ۱۷۵۲ کښې یوې شاهي وایې (*Decree*) د پۀهنګردې په لومړنیۀ دوۀ ټوکونۀ بندیز ولګولۀ او د هغې د نۀرۀ ناچاپه برخۀ د ولکه کولۀ لټون یې پیل کړۀ، نۀ **مالېشېربېس** ته بلنه ورکړه چې خپل ټۀل لیکلې توکي په خوندي ترین ځاي کښې پټ کې. او دا خوندي ترین ځاي د **مالېشېربېس** خپل کۀر ۀ.

مالېشېربېس

د باچا لپاره او د باچا په چپه

کله چې په کال ۱۷۷۱ کښې باچا پارلیمان د کانون رغونې له واک څخه بېبېرخې کړۀ او پرځاي یې خپله « هسکینه جرګه » یا (*Superior Council*) وټاکله په هغې باندې **مالېشېربېس** خورا وَخشمېدلۀ او په پرځاي یې د ټۀل میلت جرګه راوبلله. د لرغونې واکمنې په وروستیۀ کلونۀ کښې چې هغه د سَمَونۀ لپاره کومې هلې ځلې ترسره کړې او کومې ستړیې چې یې وکولې د هغه نوم هم د فرانس په هغۀ کسان کښې یاد شۀ چې اولس به ډېره زیاته مینه ورسره کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه په کال ۱۷۷۵ کښې د باچا، لوي شپارسم، په وزیرانو کښې یو وزیر شو. که څه هم هغه د شاهي کؤرنۍ خسمانګر ؤ مګر بیا به یې هم پخپله ډېرساده کالي اغوستل. هغه ډېر لېوال ؤ چې په چوڅ (*Economy*) کښې سَمون راولي. مګر کله چې پؤه شو چې شاهي دربار هیڅ ډول سمون نۀ خوښوي نو هغه پخپله له سرکاره ګوښه شو.

د مؤنسیور ګیلاومې هپې (*Adventures*)

مالېشېربېس چې کله له سرکاره ګوښه شو نو یې د چورت او اند خپلواکي لا زیاته ځواکمنه شوه. اوس نو هغه ښه پوره وخت لرلو چې له کومه کاره سره یې زیاته مینه لرله همهغه کار ته ډېر ډېر وکوي. او دا کار ؤ بوټپؤهنه (*Botany*) چې دي ببخي پرې مین ؤ.

کله چې هغه په خپل کؤر کښې ګوښې ژوند غوره کړؤ نو یې هلته د فرانس تر ټؤلؤ ښکلي او لوي باغ وکرلؤ او ورسره ورسره یې د بوټپؤهنې په باره کښې ځلوېښت بېلابېل ټوکه ولیکل.

په کال ۱۷۷۱ کښې د **مالېشېربېس** ماندینې له کور سره نیژدې په ځنګله کښې په خپله ځان په تؤپک وَوژلؤ.

مالېشېربېس دا پخه او ټینګه ګرؤهه لرله چې د باچا په ګډون هر وګړي دي کانون ته غاړه کښېږدي او هم دي د کانون له ګټؤ او ښَمره برخَمن شي. هغه به ویل، « د همدې ګرؤهې له کبله له اوښتنې (*Revolution*) وروسته زه ببرته هیواد ته راستون شوم چې د پخوانې باچا کانوني ژغورندوي (*Defence lawyer*) شم. مګر د دغه کار پایله دا شوه چې پخپله د **مالېشېربېس** هم په تخته دار (Guillotine) باندې غوڅ کړ شؤ.

دېنیس دیدېرو

دیدېرؤ چې د لیکلوست او هونر کومه لاره نیوله وه هغه یې پلار ته یو ګډوډ او بې سرېښتې کار برېښېدلؤ. مګر پخپله **دیدېرؤ** هم خپل ځان یو لیکوال او هونرمند ښکاره کېدلؤ او هم یې د خپل پلار، چې یو تکړه کاریګر ؤ، ډېر درناوي کولؤ. هغه په دې ګرؤهه ؤ چې لیکوالي پخپله یو کار او پېښه ده چې خورا زیات ربړ او کارنده تؤب غواړي.

په دیدېرؤ خپله یوه خور ډېره ګرانه وه چې مخ یې د یوې نارؤغۍ له لاسه بیخوله شوې او هروخت به یې پزې باندې یو پوښ اغوستلؤ. له همدې کبله هغه د ټؤل ژوند لپاره ستۍ یا بېواده پاته شوې وه. یو بله خور یې، چې انګلیکه نومېدله، په خپله خوښه راهیبه شوه. مګر هغه وروسته لېونۍ شوه او بیا ډېره ژر په ۲۸ کلنۍ کښې مړه هم شوه. د هغه یو ورؤر چې دیدییَر نومېدلؤ لومړي په کلیسا کښې **ابې** شؤ او بیا **کانون** شؤ.

هغه به د خپل ورؤر په باره کښې ویل: « *مسیحیان چې کوم ځیز ته نبه ایوانجېلیکي (Evangelical) وایي هغه هیڅ هم نۀ دي بلکې د بد بوي او وروستوالي یو چل دي. دیدییَر به یو نبه ملګري او یو نبه ورؤر ؤ که کلیسا د هغۀ د خوي دا نبه اړخونه تر پښؤ نۀ وای لاندې کړي*»

(c) ketabton.com: The Digital Library

د مینې پټ تاریخ

په کال ۱۷۴۲ کښې دیدېرو له نېستمنې مګر ډېرې ښکولې انتونې چامپیون سره په پټه وادۀ وکولو ځکه چې د هغۀ د پلار خوښه نۀ وه. د دوي نوړ ټؤل زاړۀ (اولادونه) کمکلي مړۀ شول مګر یوازي یو زوي، چې انجیلیک نومېدلؤ، ژوندي پاته شؤ او ابلؤځ (بالغ) شؤ. د هغۀ د نوړو دؤستانؤ په اند، میمه دیددېرو یوه نازکه نۀ بلکې یوۀ شؤخه او سرابنه ښځه وه. مګر پخپله دیدېرو له هغې سره ترپایه وفا پاللـه.

په کال ۱۷۵۵ کښې هغه د مینې یو ځل بیا په مینې کښې لاهو شؤ کله چې یې په سوفي ولاند باندي زړه وبایللؤ. هغۀ به د هغې په باره کښې داسي ویل، « د نوړو کسانؤ په اند دا یوه ۴۰ کلنه ستې (ناواده شوې) ښځه ده. خو زه په سوفي کښې د یوۀ نارینه او یوې ښځمنې ټؤل ښه خویونه او کړۀ وړۀ وینم. هغه چې کله هم وغواړي نؤ یو نارینه یا مېرمنه کېدلاي شي.»

هغۀ به د هغې سپین او نېغ ویل ډېر خوښول. د هغوي دواړؤ تر منځ پاو پېړۍ (۲۵ کاله) ټینګه مینه وه کله چې هغه په ۶۸ کلنۍ کښې مړه شوه.

دیدېرؤ د هغې په مړینې ډېر ویرژن ؤ او ویل به یې، *« اروا د یوې غاړې په شان ده، چرته چې نېه او بد دواړه ډوله ژوي اوسي. بد کسان د دغې غاړې خولبوي لرې کوي او بد ژوي ورځخه راخوشي کوي. مګر نېه کسان بیا اپوټه یوازي نېه ژوي ورځخه راخوشي کوي.»*

دیدېرؤ او د هغۀ دؤستان

دیدېرؤ به ویل: « زه یو ډېر ژبه ور او بیانګر اینسان پیدا شوي یم.» هغۀ یو دومره زیات هوسناک کس ؤ چې خپل ځان یې هېر ؤ. هر څه یې خوښېدل او ورسر مینه یې ښؤدله او هم یې تر ډېره بریده د هرڅه په باره کښې یوه کسنه (*Theory*) هم لرله. ټؤلؤ به ویل چې دیدېرؤ یو نۀ درېدونکي غږندوي دي. کله چې یوه کیسه وچېړل شي نؤ هغۀ په پرلپسې تؤګه د کوټې په نس کښې ګرځي راګرځي د خپل سروېښتان په ګوتؤ کښې مروړي او ږغیږي.

هغۀ به ویل:
« زه چې هرڅه کوم، لولم، غبرګون نېیم، لیکم، په چورت کښې ډوبېږم، اورم، ګورم او هؤنې کوم دا ټؤل یوازي او یوازي د خپلؤ ملګرؤ او دوستانؤ لپاره کوم. که له ما سره نۀ هم وي بیا هم زما ټؤله مینه او تپاک د هغوي لپاره وي. زه په پرلپسې تؤګه د هغوي د خوشالۍ چورتونه وهم... ما خپل ټؤل سَدَبَد او خپلې ټؤلې ورتیاوې تر هغوي ځار کړې دي؛ نؤ ځکه خو کله چې زه ږغا کوم او یا د یو څه

(c) ketabton.com: The Digital Library

په اړوند خپله انځورنه نښيم نۀ يو څه نا څه زياتوالي پکښې وي چې کله کله خو يې زما دغه نامنندويه دۀستان ما ته پېغۀر هم راکوي.

پۀهنګرده څه ده؟

ديدېرۀ په خپلې يوې نامتو ليکنې کښې چې سرليک يې ۀ، «پۀهنګرده »، و ليکل:

«Encycloypedie د يوناني ژبې ټکي دي چې مانا يې ده، « د ګردې پۀهنې تر منځ تړاو ». د مځکې پرمخ چې څومره پۀهنه شيندلې او لوستې پرته ده مور غواړو چې هغه ټۀله په پۀهنګرده کښې راغونډه کو او لوارې (general) پوله پټې او جوړښت يې هغۀ اينسانانۀ ته وړاندې کو چې په دې پېر کښې له مور سره يو ځای ژوند کوي او هم يې وَهغۀ کولونۀ ته پرېږدو چې مور وروسته ژواک کوي. په دې ټۀګه به د تېرۀ پېړيۀ پۀهه د راتلونکۀ پېړيۀ په نَښمر هم ورشي.

يوازې په يوۀ فلسفي پېر کښې دا هڅه کېدلای شي چې پۀهنګرده وليکل شي... پکار ده چې د هر څيز ولټول شي، رڼا وربانديې وشي او د چا خونښه که يې نۀ وي پکار ده چې څېړنه ترسره شي ... پکار ده چې مور هغه ټۀل خنډونه ونړوو چې بنسټ يې په رينښتينې نۀ وي ولاړ، او هونر ونۀ او پۀهنې ته ښېرته هغه ازادي او خپلواکي ورکوي چې بل هرڅه ګرانبها ده.

مخکينۍ پېړۍ خو چې څومره وس لرلۀ هغومره يې پۀهنه پرمخ بۀ هم تله. .. اوس نۀ زمور د پېړۍ وار دي چې د دوي ټۀلې بريالوې وبله راټۀلې کو او په يوې پېکرې کښې يې واچوو او بيا يې راتلونکي کول ته پرېږدو.»

ژان ژاک روسۀ (۱۷۱۲ ــ ۷۸)

روسۀ پيدا شوي ۀ د سويس په جېنېوا کښې چې هغه پخپله ځان ته يو داسې کوچنې ښاري اولسي دولت ۀ چې شاوخوا لۀيې لۀيې کاتوليکي نوابۍ، سرداريۍ او باچهۍ پرتۍ وې. د روسۀ مۀر د هغۀ تر زۀګړې لږ وروسته مړه شوه. هغۀ کومه دستوري زدکړه نۀ کړله ترسره. په ۱۵ کلنۍ کښې يوې کاتوليکي نوابې، مېرمن وارېنس، هغۀ ځکه تر خپلې پالنې لاندې ونيولۀ د هغۀ خپلې زدکړې پوره کې او کوندې کاتوليکي ګرۀهې ته واوړي.

وروسته هغۀ پاريس ته ولاړۀ او هلته يې له ديدېرۀ سره وليدل. هغۀ پخپله ليکي، « کله چې زه په کال ۱۷۴۱ کښې پاريس ته راغلم نۀ ما په يوۀ سماوار کښې له ديدېرۀ سره وليدل چېرته چې مور دواړه د شترنج يوې لنداړې ته ورغلي وو.»

(c) ketabton.com: The Digital Library

روسۆ به د پۆهنګردې لپاره لیکنې کولې. یوه لیکنې یې د سیاسي چۆچ *(political economy)* په باره کښې وه. د موسیکي په هکله یې بېلابېلې لیکنې وکولې. ډېر ژر روسۆ د پاریس د ساهو اندیالانۆ په کړیۆ کښې ومنل شۆ، او ځایې فلسفیانۆ به ویل چې دي هم د هغوي له ټۆلې څخه یو کس دي.

د روسۆ چپلنج

روسۆ په خپلې لومړنۍ سترې لیکنې، د هونرونۆ او پۆهنۆ په هکله څرګندونه یا *(The Discourse on the Arts and Sciences)* (۱۷۴۹) کښې د لیتوالې د بنسټې ارونۆ سره ډغره ووهله او چورت او اند یوه داسي لاره یې غوره کړه چې وروسته چې د هغۀ په ټۆلۆ وروستنیۆ لیکنۆ کښې ځلیږي.

ورپسې د روسۆ په خپلې یوې بلې سترې لیکنې ، د نابرابرۍ پیل یا *(The origin of inequality)* (۱۷۵۵) کښې هم

ددې کتاب نورې برخې به ژر خپرې شي

Get more e-books from www.ketabton.com
Ketabton.com: The Digital Library